د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 477**

(07 - 11 جوزا 1404 هـ ش)

## د صهیونیستي رژیم او ترکیې ترمنځ د جګړې د احتمال څېړنه



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:

- د صهیونیستي رژیم او ترکیې ترمنځ د جګړې د احتمال څېړنه ........................................ 3
- صهیونیستي رژیم څه غواړي؟ .................................................................... 3
- د ترکیې غبرګون او په قضیه کې د متحده ایالاتو را دخیلول ........................................ 4
- ایا صهیونیستي رژیم په رښتیني مانا د ځواک په موقف کې دی؟ ........................................ 5
- اروپا له صهیونیستي رژیمه لرې کېږي ............................................................ 6
- نتانیاهو هغه څه تر لاسه نه کړل چې له ټرمپ یې تمه لرله ............................................ 6
- ترکیه به د جګړې پراصولو بیا غور وکړي .......................................................... 7
- پایله ...................................................................................... 7
- وړاندیزونه .................................................................................. 8
- مأخذونه ................................................................................... 8

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د صهيونيستي رژيم او ترکيې ترمنځ د جګړې د احتمال څېړنه

### سريزه

د صهيونيستي رژيم او ترکيې ترمنځ د شلمې پېړۍ له نيمايي راهيسې سياسي، نظامي او اقتصادي اړيکې موجودې وې، خو په وروستيو کلونو کې د ژورو اختلافاتو ښکار شوې دي. د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکو ته د سوريې بحران، د فلسطين مسئله او د منځني ختيځ د جيوپوليټيکي معادلاتو بدليدو نوې بڼه ورکړې ده. له هغې وروسته چې د غزې جګړه پيل شوه، صهيونيستي رژيم وايي چې دوی د يوه نوي سياسي-ديني ايډلورۍ، يعنې تيوپوليټيک (Theopolitics) پر بنسټ، خپلې پاليسۍګانې تنظيم کړې دي.

[1]دا ايډلوري د مذهبي باورونو پر بنسټ د جيوپوليټيکي اهدافو تعقيب ته زمينه برابروي، خو صهيونيستي رژيم دغه نظريه يوازې د دې لپاره وړاندې کوي تر څو په غزه کې نسل وژنې او اشغال ته ديني جنبه ورکړې او له دې لارې خپل او د نړۍ يهودان تر شاه ودروي. همدارنګه ترکيه، چې له يوې خوا د سيمې له بې‌ثباتۍ انديښمنه ده او له بلې خوا د خپلو ملي ګټو ساتنه غواړي، هڅه کوي د ډيپلوماسۍ او نړيوال فشار له لارې د جګړې مخه ونيسي. [2]دا مقاله د دواړو هېوادونو تر منځ د ممکنه تقابل شونتيا، لاملونه، احتمالي پايلې او نړيوال غبرګونونه څېړي.

که د اسرائيلي چارواکو څرګندونو او د دوی د رسنيو راپورونو او همدارز هغو بريدونو ته چې دوی د سوريې په خاوره کې کړي دي وګورو، نو ښکاري چې دوی اوس ترکيه د خپلو هدفونو په دايره کې نيولې ده.

صهيونيستي رژيم، چې د ترکيې او سوريې ترمنځ د احتمالي دفاعي همکارۍ تړونونه يو مستقيم ګواښ ګڼي، داسې انګيري چې کېدای شي د سوريې دننه پر احتمالي ترکي نظامي اډو بريد کول يو ښکاره دښمنانه اقدام وي.

دې موضوع په ترکيه کې د سياسي او نظامي کړيو ترمنځ ستره انديښنه راپارولې او ژورې پوښتنې يې راپورته کړې چې ترکيه به د دې تېرې په وړاندې څه ډول غبرګون وښيي؟

### صهيونيستي رژيم څه غواړي؟

له هغه وخته چې د غزې جګړه پيل شوې، صهيونيستي رژيم غواړي چې خلکو ته وښايي چې دوی نور د "سياسي واقعيت" پر بنسټ نه، بلکې د "سياسي الهياتو (Theopolitics) "پر اساس عمل کوي.

Theopoliticsداسې يو فکر، طرز تحليل يا نظريه ده چې پکې د ديني، الهي يا مذهبي مفاهيمو، باورونو او تعهداتو پر بنسټ سياسي تصاميم، نظامونه او جګړې تفسير يا تحليل کېږي. [3]دا مفکوره له دې پوښتنو سره سروکار لري:

- د خداي اراده څنګه بايد په سياست کې تمثيل شي؟



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

- آیا د یو ملت سیاست باید د الهی هدایت پر بنسټ تنظیم شي؟
- د مذهبي باورونو نفوذ څنګه د حکومتدارۍ، قانون او نړیوال سیاست پر تصمیمونو اغېز کوي؟

یعنې په ساده توګه، صهیونیستي رژیم د "لويې اسرائیل" د جوړېدو خوب تعقیبوي او غواړي د "وعدې شوې ځمکې" پلان عملي کړي (هغه ځمکه چې د صهیونیستي عقیدې له مخې د اسرائیل لویه خاوره بلل شوې).

[4] په همدې لړ کې یې له یو شمېر امریکایي متحدو جریانونو سره تفاهمات هم کړي دي.

د دې دیني-سیاسي لیدلوري پر بنسټ، صهیونیستي رژیم هڅه کوي خپلې پولې پراخې کړي او د ګاونډیو هېوادونو ځمکې لاندې کړي. دوی د غزې، لویدیځې غاړې او د جنوبي لبنان ځینې برخې نیولې دي. له هغه وخته چې د سوریې انقلاب پیل شوی، صهیونیستي رژیم خپل اشغالګر حضور هلته ډېر کړی او ښکاري چې دا لړۍ به همداسې دوام ومومي، البته یو ځل بیا باید یادونه وکړو چې صهیونیستي رژیم دغه نظریه یوازې د دې لپاره وړاندې کوي تر څو په غزه کې نسل وژنې او اشغال ته دیني جنبه ورکړي او له دې لارې خپل او د نړۍ یهودان تر شاه ودروي.

د الجزیرې خبري تلویزیون د خبر له مخې صهیونیستي رژیم اردن، مصر او سعودي عربستان ته ګواښونه کړي او هڅه کوي چې فلسطینیان دې هېوادونو ته کډه کړي. د دې پراخېدونکي پلان اساسي منطق د "بېثباته ګاونډیو هېوادونو" نظریه ده، د دې نظریې پر بنسټ صهیونیستي رژیم نه غواړي چې شاوخوا یې کوم قوي، باثباته او اقتصادي پیاوړی هېواد موجود وي. دا هېواد د سوریې نظامي بنسټونه د پرلهپسې بمباریو له لارې له منځه وړي او هلته د بدیل جوړېدو مخه نیسي.

دوی هر ډول ترکي نظامي اډه، نظامي مرسته یا د سوریایي ځواکونو روزنه د خپل ملي امنیت پر ضد یو مستقیم ګواښ ګڼي. له همدې امله، صهیونیستي رژیم اوس چمتو دی چې د ترکیې د هر ډول نظامي حضور د مخنیوي لپاره هر ډول اقدام وکړي.

## د ترکیې غبرګون او په قضیه کې د متحده ایالاتو را دخیلول

ترکیه باور لري چې د صهیونیستي رژیم دښمنانه خبرې او کړنې، پر دې هېواد مستقیم برید ګڼل کېږي. انقره د صهیونیستي رژیم له لوري د یو څه شاتګ نښو تمه لرله، خو باور یې نه راته چې موضوع دې تر دې حده ورسېږي او د دوی "T4" نظامي اډه دې په سوریه کې بمبار شي او د دوی د څرګندونو لهجې دې دومره تېزې شي.[5] دا وضعیت په ترکیه کې د خلکو په منځ کې او د پرېکړو نیونې په حلقو کې سخت غبرګون راوپاراوه.

د ترکیې لومړنی رسمي غبرګون د بهرنیو چارو وزیر، هاکان فیدان، له خوا څرګند شو، چې د "رویټرز" خبري آژانس ته یې وویل:


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

"د صهيونيستي رژيم دا چلند نه يوازې پر سوريې بريد دی، بلکې د ټولې سيمې ثبات له خطر سره مخ کوي"...

هاكان فيدان د امريكا متحده ايالاتو ته د خپل سفر پر مهال، د امريكا د بهرنيو چارو له وزير، روبيو، سره د ليدنې پر مهال، په سوريه کې د صهيونيستي رژيم دښمنانه دريځ مطرح کړ او د ترکيې اندېښنه يې ورته په ښکاره توګه څرګنده کړه.

دا څرګندونې د ترکيې د هڅو يوه برخه ګڼل کېږي، چې غواړي وضعيت تشنج ته له رسېدو څخه وژغوري. انقره پوهېږي چې له صهيونيستي رژيم سره هر ډول مستقيم نظامي ټکر، په داسې حال کې چې سوريه له وړاندې بې‌ثباته ده، به يوازې د دې هېواد د لا ډېرې ويجاړۍ لامل شي.

نظامي انتخاب لا هم د خطرونو څخه ډک دی، ځکه ښايي د صهيونيستي رژيم په ملاتړ په غير مستقيم ډول متحده ايالات هم جګړې ته راننوځي او دا جګړه به ورسره ستره شي، هغه څه چې ترکيه يې په اوسني حالت کې نه غواړي. له همدې امله، ترکيه هڅه کوي چې د diplomacy له لارو چارو دا مسأله حل کړي.

که څه هم چې د ترکيې اړيکې د ټرمپ له ادارې سره دا مهال ښې رواني دي، خو د نړيوال اقتصادي کړکېچ د ژورېدو له امله، دا ګران کار دی چې معلومه شي امريکا متحده ايالات به په راتلونکې کې له دې کړکېچ سره څنګه چلند وکړي.

## ايا صهيونيستي رژيم په رښتينې مانا د ځواک په موقف کې دی؟

که دې موضوع ته له تاريخي اړخه وګورو، نو ويلای شو چې صهيونيستي رژيم په سيمه کې ځواکمن رژيم پاتې شوی ځکه د خو عربو هېوادونو سره په ګډه جګړه کې يې هغوی ته ماتې ورکړې ده او په اوسنيو شرايطو کې هم په منځني ختيځ کې د يو قدرت په سترګه ورته کتل کېږي، سره له دې چې متحده ايالات يې ملاتړ کوي او ورسره په څنګ کې ولاړ دی، خو د غزې د وروستنۍ جګړې له امله يې يې قدرت يو څه زيانمن شوی دی او د ترکيې په پرتله يو څه په ضعيف موقف کې قرار لري. د ترکيې نظامي وړتياوې له هر اړخه د پوځ د شمېر او تجهيزاتو له پلوه له صهيونيستي رژيم څخه ښې دي. همداراز، صهيونيستي رژيم چې کومې يرغلګرې او دښمنانه پاليسۍ غوره کړې دي لکه جګړې، اشغالونه او نظامي عمليات، د دې هېواد اقتصاد يې بې‌سارې زيانمن کړی دی.

د جګړې له امله د صهيونيستي رژيم اقتصاد يوازې په يوه کال کې ٪۲۵ راکم شوی او اټکل کېږي چې رواني جګړې به شاوخوا ۴۰۰ ميليارد ډالر لګښت لرلی وي.

د امريکا له خوا صهيونيستي رژيم ته د ورکړل شوو مرستو دقيق شمېر معلوم نه دی، ځکه ډېری يې په پټه توګه ورکول کېږي، خو دومره معلومه ده چې يوازې په ۲۰۲۴ ز.کال کې صهيونيستي رژيم ته شاوخوا ۲۰ ميليارد ډالر وسلې ورکړل شوې دي[6] .

د نړیوالو اقتصادي سقوطونو په ترڅ کې، دا ډېره سخته ده چې صهیونیستي رژیم دې وتوانېږي چې دې ګرانبها جګړې ته تر نامعلومې مودې دوام ورکړي. ژر یا وروسته به امریکامتحده ایالات پر صهیونیستي رژیم فشار راوړي چې جګړه ودروي.
د دې سربېره، صهیونیستي رژیم چې د کافي شمېر وګړو او نظامي ځواک له کمښت سره مخ ده، نه شي کولای په یوه وخت کې په څلورو جبهاتو کې جګړه وکړي او دا هم نشي کولای چې خپل پوځ د هماغه پخواني انضباط په حالت کې وساتي.
بل‌خوا، که څه هم د امنیتي بنسټ او نتانیاهو ترمنځ اختلافات لا تراوسه څرګند نه دي، خو شته دي او ورځ تر بلې زیاتېږي.
لکه څنګه چې یې اقتصاد ورځ تر بلې خرابېږي او د خلکو کړاوونه ډېرېږي، د خلکو مظاهرې چې لا هم روانې دي به لا شدیدې شي او بالاخره به نتانیاهو له واکه ګوښه شي.

### اروپا له صهیونیستي رژیمه لرې کېږي

اروپا دا مهال له متحده ایالاتو سره په یوه توده سوداګریزه شخړه کې ښکېله ده او د سوریې د سیاست په برخه کې اوس له ترکیې ملاتړ کوي، نه له صهیونیستي رژیمه، لکه څنګه چې د اروپایي چارواکو څرګندونې ښیي.
د امریکامتحده ایالاتو پر وړاندې د اروپایانو د زیاتېدونکې ناخوښۍ له امله، اټکل کېږي چې دا غوسه به د صهیونیستي رژیم پر وړاندې هم په یو سخت دریځ بدله شي. اروپایي اتحادیه، چې غواړي له واشنګټنه د هغې د اقتصادي کړکیچونو انتقام واخلي، ښایي د صهیونیستي رژیم پر یرغلګرو سیاستونو نیوکه وکړي او عملي ګامونه واخلي.
شونې ده چې په سوریه کې د فرانسې او ترکیې ترمنځ همکارۍ پیل شي او دا ډول دریځونه ممکن له هسپانیا، ایټالیا او بریتانیا هم واوربدل شي، نو اقتصادي بحران او د اړیکو خرابوالی اروپا دې ته اړ کوي چې له امریکا او صهیونیستي رژیمه بېلې، خپلواکې پالیسۍ غوره کړي.

### نتانیاهو هغه څه تر لاسه نه کړل چې له ټرمپ یې تمه لرله

د سوریې موضوع د منځنې ختیځ د عامه ذهنیت لپاره، په ځانګړې توګه د صهیونیستي رژیم او ترکیې لپاره، خورا مهمه ده، خو په امریکامتحده ایالاتو کې داسې نه ده. دا موضوع لا هم د ټرمپ د اجنډا په سر کې نه ده.
نتانیاهو د دې وضعیت د بدلون لپاره، تازه امریکامتحده ایالاتو ته سفر وکړ ترڅو د سوریې موضوع د ټرمپ مخې ته کېږدي او له هغه وغواړي چې د ترکیې پر ضد د صهیونیستي رژیم ملاتړ وکړي، خو حالات د نتانیاهو د هیلو خلاف روان شول. ټرمپ له هغه سره یخ او بې‌احساسه چلند وکړ. کله چې نتانیاهو وغوښتل چې ټرمپ



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

دې د صهیونیستي رژیم د امنیت په اړه یو ملاتړی بیان ورکړي، هغه داسې ځوابونه واورېدل چې د ده خوښ نه شول[7].

ټرمپ وویل: زه یو لوی دوست لرم، نوم یې اردوغان دی. زه یې خوښوم، هغه هم ما خوښوي. زموږ ترمنځ هېڅ ستونزه نه ده رامنځته شوې. موږ ډېر څه یوځای تېر کړي دي. نتانیاهو، که ته له ترکیې سره ستونزه لرې، زه باور لرم چې دا ستونزه حلولای شم. هیله لرم چې هېڅ ستونزه رامنځته نه شي... خو باید منطقي واوسې".

دا خبرې د نتانیاهو لپاره ډېرې خفه کوونکې وې، خو د ټرمپ دا خبرداری چې "باید منطقي واوسې" یو مهم پیغام لري: داسې ښکاري چې د صهیونیستي رژیم او نتانیاهو غوښتنې پای نه لري او ټرمپ نور له دې غوښتنو ستړی شوی دی.

## ترکیه به د جګړې پراصولو بیا غور وکړي

ښکاره ده چې یوازې اقتصادي، ډیپلوماتیکې او سیاسي اړیکې د صهیونیستي رژیم د یرغلګر چلند د مخنیوي لپاره، که په سوریه کې وي یا پر خپله ترکیه کې، بسنه نه کوي. له همدې امله، دا ډېر امکان لري چې انقره به له خپلې خاورې څخه د باندې د خپل نظامي حضور د تنظیم لپاره د "د جګړې پر اصولو" بیا کتنه وکړي. لکه څنګه چې لیدل شوي، کله چې په عراق کې د ترهګرو له خوا پر ترک ځواکونو برید وشي، ترکیه بې له ځنډه غبرګون ښیي. خو که برید د یو رسمي دولت له لوري ترسره شي، څه؟ یعنې که صهیونیستي رژیم په سوریه کې پر ترک نظامي اډو بمبار وکړي، نو د ترکیې غبرګون به څه وي؟ آیا ناټو به مداخله وکړي؟ او د ناټو دریځ به څه وي؟

دغه ټولې پوښتنې ترکیه دې ته اړ کوي چې پر خپلو نظامي اصولو بیاکتنه وکړي. دا مهال، په انقره کې د پوځ، ډیپلوماتیکو او سیاسي حلقو ترمنځ د دې موضوع په اړه پراخ بحثونه روان دي.

که څه هم چې تر اوسه وروستی پرېکړه نه ده شوې، خو دا خبره یقیني ده چې ترکیه به په دې پړاو کې نه شاتګ کوي، نه به کوم امتیاز ورکوي.

## پایله

په پایله کې، د صهیونیستي رژیم او ترکیې تر منځ مستقیمه جګړه، که څه هم اوسمهال یو بشپړ واقعیت نه دی، خو د موجوده سیاسي، نظامي او ایدیولوژیکو فشارونو له مخې، امکان لري چې حالت تشنج ته ولاړ شي. صهیونیستي رژیم هڅه کوي چې د خپلو ګاونډیانو د کمزوري کولو لپاره هر ډول اقدام وکړي. ترکیه، برعکس، هڅه کوي چې د دې دښمنانه اقداماتو پر وړاندې خپل ملي امنیت وساتي او د جګړې مخه د دیپلوماسۍ له لارې ونیسي، خو که دا کړکېچ کنټرول نه شي، دا به یوازې د سوریې د لا ډېرې بې‌ثباتۍ، د سیمه‌ییزو قدرتونو د ټکر او د نړیوالو لوبغاړو د مستقیم ښکېلتیا لامل شي. دا حالت نه یوازې د سیمې لپاره، بلکې د نړیوالې سولې او اقتصاد لپاره هم ستر ګواښ دی.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## وړاندیزونه

ترکیه دې خپلو نظامي پالیسیو ته بیا کتنه وکړي، تر څو د احتمالي خطرونو پر وړاندې چټک او مؤثر غبرګون وښيي.

1 د سیمې هېوادونو ترمنځ یو مستقل امنیتي میکانیزم جوړ شي، څو د صهیونیستي رژیم غوندې اقداماتو ته مشترک غبرګون وښودل شي.

2 ترکیه دې د خپلو دیپلوماټیکو اړیکو له لارې د واشنګټن ملاتړ جلب کړي او د امریکامتحده ایالاتو د پالیسۍ انعطاف وڅاري.

3 مطبوعات او مدني ټولنې دې پر نړیوالو بنسټونو فشار زیات کړي تر څو د صهیونیستي رژیم د یرغلګر سیاستونو مخنیوی وشي.

## مأخذونه

[1]. **Outlook: How A Dangerous Mix Of Theology And Geopolitics Have Led To Abandonment Of Palestinians, 7 febr 2024, link:**

https://www.outlookindia.com/international/gaza-dangerous-mix-of-theology-and-geopolitics-have-led-to-abandonment-of-palestinians-magazine-333611

[2] . ایرنا: ترکیه بر لزوم فشار بر رژیم اسرائیل برای توقف جنگ در غزه تاکید کرد، 23 اسد 1403 خورشیدی، لینک:
https://www.irna.ir/news/85566432/ترکیه-بر-لزوم-فشار-بر-رژیم-اسرائیل-برای-توقف-جنگ-در-غزه-تاکید?utm_source=
.com

[3]. **CAMBRIDGE: Theopolitics Contra Political Theology: Martin Buber's Biblical Critique of Carl Schmitt, 11 Dec 2018, link:**

https://www.cambridge.org/core/journals/american-political-science-review/article/abs/theopolitics-contra-political-theology-martin-bubers-biblical-critique-of-carl-schmitt/0AA96D00E5D71D3447E94372EEBAB565?

[4]. **THE NEW ARAB: Greater Israel isn't just Biblical delusion, it's Zionism's DNA, 07 Mar 2025, link:**

https://www.newarab.com/opinion/greater-israel-isnt-just-biblical-delusion-its-zionisms-

[5] . خبرگزاری تسنیم: چرا اسرائیل به T4 حمله می‌کند؟، 15 حمل 1404، لینک:
https://www.tasnimnews.com/fa/news/1404/01/15/3285064/
چرا-اسرائیل-به-t4-حمله-می-کند

[6] INDEPENDENT فارسی: آمریکا با فروش 20 میلیارد دلار تسلیحات نظامی به اسرائیل موافقت کرد، 24 اسد 1403ش، لینک:
https://www.independentpersian.com/node/409055



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

/جهان/آمریکا-با-فروش-۲۰-میلیارد-دلار-تسلیحات-نظامی-به-اسرائیل-موافقت-کرد؟

[7]. ایران انترنشنل: استقبال گرم ترامپ از نتنیاهو در فلوریدا، 5 اسد 1404، لینک:

https://www.iranintl.com/202407266489?

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاينې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000